د ځوان کول لپاره په آسانه او ساده پښتو ژبه
کې ژباړل شوی وړکوټی او لنډ کتاب

# شُرُوطُ الصَّلَاةِ

(په حنفي فقه کې)

تألیف:

الشیخ عبد المجید بن محرم بن محمد بن
عارف محي الدين [illegible] الحنفي
رحمه الله تعالی

Ketabton.com

پښتو ژباړه او ترتیب:

محمد عبد الرحمن قدوسي

غفر الله له ولوالدیه ولذویهم جمیعا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمد لله والصلاة والسلام على من والاه وعلى من اتبع هداه وبعد.**

د اسلام په ارکانو کې دوهم رکن لمونځ دی ، لمونځ هغه رکن او فریضه ده چې د قیامت په ورځ به تر ټولو عملونو له مخه د هغه پوښتنه او گروېږنه کېږي، که د یو چا لمونځ قبول شي او د لمانځه په امتحان کې بریالی شي د الله تعالی رحمت ته د دې زیات امید شته چې نور اعمال یې هم قبول او منل شي او اخروي ژوند یې له خوښیو سرشار او له الهي نعمتونو برخمن شي، او که د یو چا لمونځ مسترد کړل شي که د الله تعالی ځانگړی رحمت نه وي زیاته وېره د دې چې په نور امتحان کې هم ناکامه او نور اعمال یې هم ونه منل شي او له ابدي بد مرغۍ سره مخامخ شي (نعوذ بالله من ذلک)

**يَقُولُ النَّبِيُّ ﷺ : إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ ، فَإِنْ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ : انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ فَيُكَمَّلَ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنْ الْفَرِيضَةِ ؟ ثُمَّ يَكُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِكَ ) رواه الترمذي**

رسول الله ﷺ فرمایي: د قیامت په ورځ چې د کوم عمل له بنده سره لومړی حساب کېږي هغه د ده لمونځ دی که یې لمونځ سم او روغ شو کامیاب او بریالی شو او که یې لمونځ خراپ شو نو له مایوسۍ او تاوان سره مخ شو او که یې په فرض لمانځه کې نیمگړتیا ومونده شوه الله تعالی به وو‌ایي: وگورئ آیا زما د بنده نفل لمونځونه شته چې هغه نیمگړتیا یې پرې بشپړه شي؟ بیا به د نورو عملونو ارزونه هم په دې بنیاد وشي.

په همدې اساس او همدا راز د ځینو دوستانو په غوښتنه او د خپل اولاد لپاره مو دا وړوکی او مختصر کتاب پښتو ته وژباړه تر څو هرڅوک وکولی شي په اسانۍ سره بې له استاده د دې مهمې او بنیادي فریضې مهم او ضروري معلومات د دې کتاب د لوستلو له لارې تر لاسه کړي او د بشپړې پوهې په رڼا کې دا فریضه لکه څرنگه چې په کار وي سرته ورسوي **والله المستعان وعليه التكلان.**

الله تعالی دې زما دا وړوکی خدمت په خپل دربار کې قبول کړي د دې کتاب د مؤلف او زما لپاره او زما د والدینو لپاره دې د مغفرت باعث او د جنت د دخول سبب او زما د اولاد او ځوان کول لپاره دې د لمونځ پېژندنې ذریعه او د هدایت مشال وگرځوي. **وصلى الله تعالى على محمد واله وصحبه أجمعين والحمد لله رب العالمين.**

**محمد عبد الرحمن قدوسي**

سه شنبه ۲۰۱۹/۱۰/۲۹ میلادي کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د الله تعالى په نامه چې رحمن او رحيم ذات دی

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى

ټوله ستاينه يواځې الله لره ده چې د عالميانو پروردګار دی او ښه انجام پرهيزګارانو لره دی او درود او سلام دي وي

رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنِ.

د هغه په استاځي محمد ﷺ او د هغه په نږدې خپلوانو او د هغه په ټولو ملګرو باندي.

# شُرُوطُ الصَّلَاةِ وَهِيَ ثَمَانِيَةٌ:

د لمانځه شرطونه او هغه اته دي:

الْأَوَّلَ: الْوَضُوءُ بِالْمَاءِ الْمُطْلَقِ أَوِ التَّيَمُّمُ بِالتُّرَابِ عِنْدَ عَدَمِ الْمَاءِ الْمَذْكُورِ

لومړی : اودس کول دی په عامو اوبو سره، يا تيمم وهل دی په خاورو باندي کله چې يادي شوي اوبه نه وي.

وَالثَّانِي: طَهَارَةُ الثَّوْبِ عَنِ النَّجَاسَةِ الْغَلِيظَةِ وَالْخَفِيفَةِ.

دوهم: د جامې پاکوالی دی له نا پاکۍ څخه که نا پاکي ټينګه وي او که سپکه.

وَالثَّالِثُ: طَهَارَةُ الْمَكَانِ الَّذِي يُصَلَّ فِيهِ.

درېيم : د هغه ځای پاکوالی دی په کوم کي چي لمونځ کېږي.

وَالرَّابِعُ: طَهَارَةُ الْبَدَنِ مِنَ الْبَوْلِ والغَائِطِ وَمَا أَشْبَهُهُمَا.

څلورم: د بدن پاکوالی دی له متيازو او غولو او له هغه نا پاکۍ څخه چي دې دواړو ته ورته وي.

وَالْخَامِسُ: سَتْرُ الْعَوْرَةِ وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مِنَ السُّرَّةِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَالْمَرْأَةُ كُلُّهَا

پنځم: د شرم ځای پټول دی او د نارينه شرم ځای له ناف څخه تر زنګونونو پوري دی او ښځه ټوله سره

عَوْرَةٌ إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا وَالْأَمَةُ مِثْلُ الرَّجُلِ إِلَّا ظَهْرَهَا وَبَطْنَهَا

شرم ځای ده خو مخ او لاسونه او پښې يي شرم ځای نه دي او مينځه هم د نارينه په شان ده خو نس او ملا يي نه دي

وَالسَّادِسُ: اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ.

شپږم: د قبلې لورته مخ کول دی

وَالسَّابِعُ: النِّيَّةُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم :  نیت کول دی.

وَالثَّامِنُ مُعَرِفَةُ أَوْقَاتِ الصَّلَاَةِ.

اتم: د لمانځه د وختونو پېژندل دی

وَمَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الشُّرُوطِ لَا تَصِحُّ صَلَاتُهُ سَوَاءً كَانَ عَامِدًا أَوْ نَاسيًا

څوک چې له دې شرطونو یو شرط هم په قصد یا هېره سره پرې ږدي لمونځ یې صحیح نه دی.

## أَرْكَانُ الصَّلَاَةِ وَهِي سِتَّةٌ:

د لمانځه رکنونه او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ: تَكْبِيرُ الْاِفْتِتَاحِ

لومړی: د لمانځه د پیل تکبیر (تحریمه) دی

والثاني: الْقِيَامُ

دوهم: درېدل (ولاړه) دی

وَالثَّالِثُ: الْقِرَاءةُ

درېیم: د قران کریم د ایتونو ویل دی

وَالرَّابِعُ: الرُّكُوعُ

څلورم: رکوع کول (په ملا ټیټېدل) دی

وَالْخَامِسُ: السُّجُودُ

پنځم: سجده کول (تندي او پزه په ځمکه ایښودل) دی

وَالسَّادِسُ: الْقَعْدَةُ الْأَخِيرَةُ

شپږم: وروستۍ (د تشهد) ناسته ده

مَنْ تَرْكَ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الْأَرْكَانِ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ وَيَسْتَأْنِفُ الصَّلَاَةَ مَرَّةً أُخْرَى

څوک چې له دې رکنونو څخه یو رکن هم پرې ږدي لمونځ یې خراپ شو او بېرته به لمونځ دوهم ځل را ګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وَاجِبَاتُ الصَّلَاَةِ وَهِيَ سَبْعَةٌ:

د لمانځه واجبات او هغه اووه دي

**الْأَوَّلُ: قِرَاءةُ الْفَاتِحَةِ.**

لومړی: د سورة الفاتحة (الحمد لله) ويل دی.

**وَالثَّانِي: اَلْقَعْدَةُ الْأُولَى.**

دوهم: لومړی (د تشهد) ناسته ده

**وَالثَّالِثُ: قِرَاءةُ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْأَخِيرَةِ.**

درېیم: په وروستی ناسته کي د تشهد ويل دی

**وَالرَّابِعُ: جَهْرُ الْإِمَامِ بِالْقِرَاءةِ فِيمَا يُجْهَرُ بِهِ.**

څلورم: د امام په لوړ غږ قراءت ويل دی په جهري لمانځه کي

**وَالْخَامِسُ: مُخَافَةُ الْقِرَاءةِ فِي مَوْضِعِ السِّرِّ.**

پنځم: د امام په ټيټ غږ قراءت ويل دی په خفيه لمانځه کي

**وَالسَّادِسُ: قِرَاءةُ الْقُنُوتِ فِي الْوَتَرِ.**

شپږم: په وتر لمانځه کي د دعای قنوت ويل دی

**وَالسَّابِعُ تَعْدِيلُ الْأَرْكَانِ.**

اووم: د لمانځه د ټولو رکنونو برابرول (سم ادا كول) دی

**مَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ السَّبْعَةِ الْمَذْكُورَةِ إِنْ كَانَ سَاهِيًا تَلْزَمُ سَجْدَةُ**

که څوک له دې اووو واجباتو يو هم په هېره پرې ږدي سجده سهو ورباندي واجب شوه

**السَّهْوِ وَمَنْ تَرَكَ عَامِدًا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ شَيْءٌ وَلَكِنَّ صَلَاَتُهُ مَعَ نُقْصَانٍ.**

او که يي په قصد سره پرې ږدي څه شی ورباندي نشته خو لمونځ يي نقصاني شو

**(وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِ إِعَادَةُ الصَّلَاةِ)**

(خو صحيح خبره دا ده چي د لمانځه بېرته را گرځول ورباندي واجب دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سُنَنُ الصَّلَاةِ وَهِي أَرْبَعَ عَشْرَةَ

د لمانځه سنتونه او هغه څوارلس دي

**الْأَوَّلُ: رَفْعُ الْيَدَيْنِ مَعَ تَكْبِيرِ الْاِفْتِتَاحِ حَتَّى يُحَاذِي إِبْهَامَيْهِ بِشَحْمَتَيْ أُذُنَيْهِ.**

لومړی: له تكبير تحريمه سره د لاسونو پورته کول په داسې بڼه چې دوه بټې ګوتې د غوږونو له نرمي سره برابري شي

**والثَّانِي: وَضْعُ يَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى تَحْتَ السُّرَّةِ.**

دوهم: تر نامه لاندي ښی لاس په كيڼ لاس سربېره ايښودل دی

**وَالثَّالِثُ: ثَنَاءُ اللَّهِ تَعَالَى.**

درېيم: د الله تعالی ستاينه (سبحانک اللهم) ويل دی

**وَالرَّابِعُ: التَّعَوُّذُ بِاللَّهِ تَعَالَى.**

څلورم: أعوذ بالله ويل دی

**وَالْخَامِسُ: التَّسْمِيَةُ.**

پنځم: بسم الله ويل دی

**وَالسَّادِسُ: التَّأْمِينُ.**

شپږم: آمين ويل دی

**وَالسَّابِعُ: التَّسْمِيعُ.**

اووم: سمع الله لمن حمده ويل دی

**وَالثَّامِنُ: التَّحْمِيْدُ.**

اتم: ربنا لک الحمد ويل دی

**وَالتَّاسِعُ: تَسْبِيحَاتُ الرُّكُوعِ.**

نهم: په رکوع كي سبحان ربي العظيم ويل دی.

**وَالْعَاشِرُ: تَسْبِيحَاتُ السُّجُودِ**

لسم: په سجده كي سبحان ربي الأعلى ويل دی

**والْحَادِي عَشَرُ: قِرَاءَةُ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْأُوْلَى.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم: په وروستۍ ناسته کي تشهد ويل دی

والثَّانِي عَشْرُ: الْفَاتِحَةُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ.

دوولسم: په وروستيو دوو رکعتونو کي د سورة الفاتحة ويل دی

وَالثَّالِثَ عَشْرُ: التَّكْبِيرَاتُ الَّتِي غَيْرَ الْاِفْتِتَاحِ.

ديارلسم: له تکبير تحريمه پرته د لمانځه د نورو تکبيرونو ويل دي

وَالرَّابِعَ عَشْرُ: التَّسْلِيمُ.

څوارلسم: د سلام گرځول دی

وَمَنْ تَرَكَ شَيْئًا مِنْ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ الْمَذْكُورَةِ لَمْ يَلْزَمْ عَلَيْهِ شَيْءٌ

که چا له ياد شويو سنتونو کوم سنت پرې ښود هيڅ ورباندي نشته

سَوَاءٌ تَرَكَ عَامِدًا أَوْ نَاسِيًّا.

که يي په قصد سره پرې ږدي او يا په هېره سره

## مُسْتَحَبَّاتُ الصَّلَاةِ وَهِيَ خَمْسَةٌ وَعِشْرُونَ

د لمانځه مستحبات او هغه پنځه ويشت دي

الأَوَّلُ: نَظَرُ المُصَلِّي فِي القِيَامِ إِلَى مَوْضِعِ السُّجُودِ.

لومړی: د ولاړه (درېدا) په حالت کي د لمونځ کوونکي د سجدې ځای ته د لمونځ کوونکي کتل دی

وَالثَّانِي: نَظَرُ المُصَلِّي فِي الرُّكُوعِ إِلَى قَدَمَيْهِ.

دوهم: د رکوع په وخت کي د لمونځ کوونکي پښو ته کتل دی

وَالثَّالِثُ: نَظَرُ المُصَلِّي فِي السُّجُودِ إِلَى أَرْنَبَةِ الأَنْفِ.

درېيم: د سجدې په وخت کي د لمونځ کوونکي د پوزي سر ته کتل دی

وَالرَّابِعُ: نَظَرُ المُصَلِّي فِي القَعْدَةِ إِلَى حِجْرِهِ.

څلورم: د ناسته په وخت کي د لمونځ کوونکي خپلي سينې ته کتل دی

وَالخَامِسُ: قِرَاءَةُ سُورَةٍ تَامَّةٍ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ بَعْدَ الفَاتِحَةِ.

پنځم: په لومړيو دوو رکعتونو کي له سورة الفاتحة وروسته بشپړه سوره ويل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَالسادِسُ: تَكْبِيْرُ المَأمُومِ سِرًّا بِلَا مَدٍّ.

شپږم: د مقتدي لپاره بې کشولو د تکبيرونو په ټيټ غږ ويل دی

وَالسَّابِعُ: وَضْعُ اليَدَيْنِ عَلَى الرُكْبَتَيْنِ مَعَ تَفْرِيْجِ الأَصَابِعِ.

اووم: غوړېدلي ګوتې دواړه لاسونه په ګونډو ايښودل دی (د رکوع په وخت کې)

وَالثَّامِنُ: بَسْطُ الظَّهْرِ فِي الرُّكُوعِ.

اتم: ملا هوارول دی په رکوع کې

وَالتَّاسِعُ: تَسْوِيَةُ الرَأْسِ مَعَ الكَتِفِ.

نهم: سر له اوږو سره برابرول دی

وَالعَاشِرُ: رَفْعُ الرَأْسِ بالتَّسْمِيْعِ.

لسم: د سمع الله لمن حمده له ويلو سره سر اوچتول دی

وَالحادِي عَشْرُ: إِذَا أَرَادَ السُجُودَ أَنْ يَضَعَ أَوَّلاً رُكْبَتَيْهِ عَلَى الأَرْضِ.

يوو لسم: کله چې غواړي سجده وکړي لومړی به دواړه ګونډې په ځمکه کېږدي

وَالثَّانِي عَشْرُ: أَنْ يَضَعَ يَدَيْهِ ثَانِياً عَلَى الأَرْضِ.

دوولسم: بيا به دواړه لاسونه په ځمکه کېږدي

وَالثَّالِثَ عَشْرُ: أَنَّ يَضَعَ أَنْفَهُ بَعْدَ اليَدَيْنِ.

ديارلسم: بيا به پوزه له لاسونو وروسته په ځمکه کېږدي

وَالرَّابِعَ عَشْرُ: أَنْ يَضَعَ جَبْهتهُ فِي السُّجُودِ بَعْدَ أَنْفِهِ.

څوارلسم: له پوزې وروسته به تنده په ځمکه کېږدي

وَالخَامِسَ عَشْرُ: أَنْ يُبْعِد ضِبْعَيْهِ عَنْ إِبْطَيْهِ.

پنځلسم: دواړه څنګلې به له تخرګونو ارتې ونيسي

وَالسَّادِسَ عَشْرُ: أَنْ يُجَافِيَ بَطْنَهُ عَنْ فَخْذَيْهِ

شپاړسم: خېټه به له ورنو څخه په سجده کې لرې نيسي

وَالمَرْأَة تُلْزِقُ بَطَنَها بِفَخْذَيْهَا فِي سُجُودِهَا

او ښځه به خېټه له ورنو سره په سجده کې نښلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَالسَّابِعَ عَشْرُ: أَنْ يُوَجِّهَ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ إِلَى القِبْلَةِ فِي السُّجُودِ.

اوولسم: د دواړو پښو ګوتې به په سجده کې قبلې ته مخامخ کوي

وَالثَّامِنَ عَشْرُ: أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ بِالتَّكْبِيرِ.

اتلسم: له سجدې څخه به سر له تکبير ويلو سره جوخت را پورته کوي

وَالتَّاسِعَ عَشْرُ: أَنْ يُسَبِّحَ فِي السُّجُودِ ثَلاَثاً أَو خَمْسًا أَوْ سَبْعاً.

نولسم: په سجده کې به سبحان ربي الأعلى درې ځله يا پنځه ځله او يا هم اووه ځله وايي

وَالعِشْرُونَ: أَنْ يَرْفَعَ يَدَيْهِ بَعْدَ رَأْسِهِ.

شلم: له سجدې څخه به د سر له اوچتولو وروسته لاسونه اوچتوي

وَالحَادِي وَالعِشْرُونَ: أَنَّ يَرْفَع رُكْبَتَيْهِ بَعْدَ رَفْعِ يَدَيْهِ.

يوويشتم: دواړه ګونډې به د لاسونو له اوچتولو وروسته اوچتوي

وَالثَّانِي وَالعِشْرُونَ: إِذَا رَفَعَ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ لِلرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ

دوه ويشتم: کله چې د دويم رکعت له دويمې سجدې را پورته شي

أَفْتَرَشَ رِجْلَهُ اليُسْرَى وَجَلَسَ عَلَيْهَا.

کيڼه پښه به هواره کړي او ور باندي به کښېني

وَالثَّالِثُ وَالعِشْرُونَ: أَنْ يَنْصَبَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى وَيُوَجِّهَ رُؤُوسَ الأَصَابِعِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ

درويشتم: ښی پښه به جګه ودروي او د ګوتو سرونه به يې د قبلې لور ته مخامخ کړي

وَالرَّابِعُ وَالْعِشْرُوْنَ: أَنْ يَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى فَخْذَيْهِ مَبْسُوطَتَا الأَصَابِعِ

څلور ويشتم: لاسونه به په ورنو داسې کېږدي چې ګوتې به يې سره ارته کړي وي

وَيَتَشَهَّدَ بِقَلْبِهِ وَلِسَانِهِ.

او په زړه او خوله به تشهد ووايي

وَالْخَامِسُ وَالعِشْرُونَ: إِذَا فَرِغَ مِنَ التَّشُهِّدِ يُصَلِّ عَلَى النَبِيِّ ﷺ ثَمَّ

پنځه ويشتم: کله چې له تشهد څخه فارغ شي په رسول الله ﷺ به درود ووايي بيا به

يُسَلِّمُ عَلَى مَنْ فِي يَمِينِهِ مِنَ الرِّجَالِ وَالحَفَظَةِ

ښي اړخ ته په نارينه وو او په ساتونکيو ملائکو سلام وګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثُمَّ يُسَلِّمُ عَلَى يَسَارِهِ مِثْلُ ذَلِكَ.

او بیا به کیڼ اړخ ته همداسې سلام وګرځوي

وَمَا سِوَى ذَلِكَ آدَابٌ وَثَوَابٌ وَهُوَ مَسْحُ الْيَدَيْنِ عَلَى الْوَجْهِ بَعْدَ السَّلَامِ.

په دې سربېره اداب او ثواب دي او هغه په مخ باندي له سلام څخه وروسته لاس تېرول دي

ثُمَّ الأَدْعِيَةُ وَالأَذْكَارُ المَأْثُوْرَةُ

او بیا دوعاګانې او مأثوره اذکار دي

إِنْ تَرَكَ شَيْئاً مِنَ الْمُسْتَحَبَّاتِ وَالْآدَابِ لاَ يَلْزَمُ عَلَيْهِ شَيْءٌ

که چا له دې مستحباتو او آدابو څخه کوم یو پرې ښود هیڅ وربانديي نشته

وَلَا يَكُونُ تَارِكُهَا مُسِيئاً وَلِكِن بِإِتْيَانِهَا تَعْظِيمٌ لِأَمْرِاللّٰهِ تَعَالَى فَلَهُ أَجْرُهَا

او نه يي پرې ښوونکی ګنهکار دی خو په کولو کې د الله تعالی د شان درناوی دی د کوونکي لپاره اجر او ثواب لري

وَثَوَابُهَا وَمُرَاعَاتُهَا أَفْضَلُ وَأَحْسَنُ.

او خیال ساتل یي غوره او ښکلی کار دی

## مَكْرُوهَاتُ الصَّلاَةِ وَهِيَ عَشْرَةٌ:

د لمانځه مکروهات او هغه لس دي

الأَوَّلُ: التَّرَبُّعُ بِلَا عُذْرٍ.

لومړی: بې ضرورته پلتۍ وهل

وَالثَّانِي: عَدُّ الآيَاتِ بِالْيَدِ.

دوهم: په لاس سره د آیتونو شمېرل

وَالثَّالِثُ: اِفْتَرَاشُ ذِرَاعَيْهِ فِي السُّجُودِ كَافْتِرَاشِ الثَّعْلَبِ.

دریيم: په سجده کې د ګیدړ غوندې په ځمکه د لاس د څنګلو نښلول

وَالرَّابِعُ: الاِلْتِفَاتُ بِعَيْنِهِ يُمْنَةً وَيُسْرَةً.

څلورم: د سترګو په کونجانو ښي او کیڼ اړخ ته کتل

وَالْخَامِسُ: تَغْمِيضُ الْعَيْنَيْنِ بِلَا عُذْرٍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم: بې له عذر څخه د سترګو پټول

**وَالسَّادِسُ: تَقَلُّبُ الْحَصَى مِنْ مَوْضِعِ السُّجُودِ بِلَا حَاجَةٍ.**

شپږم: د سجدې له ځایه بې ضرورته د ډبرو یا ژغل اخوا دېخوا کول

**وَالسَّابِعُ: أَنْ يَتَمَطَّى فِي الصَّلاَةِ.**

اووم: (د سستی له امله) په لمانځه کې غځېدل

**وَالثَّامِنُ: التَّثَاؤُبُ، فَيَنْبَغِيْ أَنْ يَضُمَّ فَمَهُ فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ فَيَضَعُ يَدَهُ الْيُمْنَى أَوْ**

اتم: ارمېږي کول ، باید یا خو خوله وتړي او که یې ونکړای شول نو ښی لاس او یا هم

**كُمَّهُ عَلَى فَمِهِ.**

لستوڼی دي په خوله کېږدي

**وَالتَّاسِعُ: أَنْ يَلْعَبَ بِثَوْبِهِ أَو بِيَدِهِ أَوْ بِلِسَانِهِ أَوْ يَلُفَّ الثَّوْبُ.**

نهم: دا چې پخپله جامه او یا لاس او یا ژبې ساتېرى کوي او یا جامې پېچي

**وَالْعَاشِرُ: أَنْ يَقُوْمَ وَحْدَهُ خَلْفَ الصَّفِّ إِن كَانَتْ فِي الصَّفِّ فُرْجَةٌ.**

لسم: دا چې یواځې د صف شاته ودرېږي که په صف کې د درېدلو چوله وي

**فَهٰذِهِ كُلُّهَا مَكْرُوهَةٌ فِي الصَّلاَةِ يَنْبَغِي لِلمُصَلِّي أَنْ يَجْتَنِبَهَا حَتَّى لَا يَكُونَ**

دا کارونه ټول په لمانځه کې مکروه دي لمونځ کوونکي ته ښایي چې ځان ترې وساتي تر څو چې

**مَكْرُوهٌ فِي الصَّلاَةِ.**

په لمانځه کې کوم مکروه نه وي.

## مُفْسِدَاتُ الصَّلَاةَ وَهِي أَرْبَعَةَ عَشَرَ:

د لمانځه فاسدوونکي او هغه څوارلس دي

**الْأَوَّلُ: التَّنَحْنُحُ بِلَا عُذْرٍ.**

لومړی: بې له عذر څخه ارخېسي کول (د غاړو تازه کول)

**الثَّانِي: أَنْ يَقُولُ لِلْعَاطِسِ " يَرْحَمُكَ اللهُ".**

دوهم: چې پرنجېدونکي ته ووايي : يرحمك الله

الثَّالِثَ: أَنْ يَفْتَحَ عَلَى غَيْرِ إِمَامِهِ.

درېيم: بې له خپل امام څخه بل چا ته فتح ورکول (غلطي جوتول)

وَالرَّابِعُ: كَلِمَةُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهَ إِنْ أَرَادَ بِهِ الْجَوَابَ وَإِنْ أَرَادَ بِهِ الإِعْلَامَ لَا تُفْسَدُ.

څلورم: د ځواب په نيت لا اله الا الله ويل او که يي اراده د خبرولو وي بيا يي نه فاسدوي

وَالْخَامِسُ: اِنْكِشَافُ الْعَوْرَةِ.

پنځم فاسدوونکی: د شرم ځای لوڅېدل

وَالسَّادِسُ: اِرْتِفَاعُ الْبُكَاءِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ مُصِيبَةٌ، وَإِنْ كَانَ مِنْ ذِكْرِ الْجَنَّةِ

شپږم: د درد او مصيبت له امله په لوړ غږ ژړل او که د جنت

أَوِ النَّارُ لَمْ يُفْسِدْ.

يا دوزخ له ياد څخه وي لمونځ نه فاسدوي

وَالسَّابعُ: رَدُّ السَّلَامِ بِيَدِهِ أَوْ بِلِسَانِهِ.

اووم: په لاس او يا ژبه چاته د سلام ځواب ورکول

وَالثَّامِنُ: ذِكْرُ الْفَائِتَةِ وَلَمْ يَسْقُطِ التَّرْتِيبُ.

اتم: د قضا شوي لمونځ ور په زړه کېدل خو چي ترتيب يي نه وي ترې ختم شوی

وَالتَّاسِعُ: الْعَمَلُ الْكَثِيرُ سَوَاءً كَانَ بِالْيَدِ أَوْ غَيْرِهَا.

نهم: زيات کار (عمل کثير) کول که په لاس وي يا کوم بل څه

وَالْعَاشِرُ: التَّكَلُّمُ عَامِدًا أَوْ نَاسيا.

لسم: په قصد او يا غلطي سره خبري کول

والحادي عَشَرَ: الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ.

يوولسم: خوراک او څښاک کول

والثَّانِي عَشَرَ: أَنَّ يَقُولُ " آه اوه".

دوولسم: دا چي ووايي آااه يا اوووه

وَالثَّالِثَ عَشَرَ: الْقَهْقَهَةُ وَالضَّحِكُ.

ديارلسم: په لوړ غږ او په کړسي سره خندا کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَالرَّابِعَ عَشَرَ: الإِغْمَاءُ.

څوارلسم: بې هوښه کېدل

وَهَذِهِ كُلُّهَا تُفْسِدُ الصَّلَاَةَ سَوَاءً عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا، وَ يَجِبُ عَلَيْهِ الْإِعَادَةُ.

دا کارونه ټول لمونځ فاسدوي که په قصد سره وي که په غلطي سره او د لمانځه را گرځول پرې واجب دی

## فَرَائِضُ الْوُضُوءِ وَهِي أَرْبَعَةٌ:

د اوداسه فرضونه او هغه څلور دي

الْأَوَّلُ: غَسْلُ الْوَجْهِ وَهُوَ مِنْ قَصَاصِ الشَّعْرِ إِلَى أَسْفَلِ الذَّقَنِ وَالْأُذْنَيْنِ.

لومړی: د مخ پرې مینځل دی او مخ د وېښتانو له بېخ څخه د غوږونو او زني تر لاندي پوري دی

والثاني: غَسْلُ الْيَدَيْنِ مَعَ الْمِرْفَقَيْنِ.

دوهم: د لاسونو له څنگلو سره پرې مینځل

وَالثَّالِثُ: مَسْحُ رُبْعِ الرَّأْسِ.

دریېیم: د سر د څلورمې برخې مسحه کول (لوند لاس پرې تېرول)

وَالرَّابِعُ: غَسْلُ الرِّجْلَيْنِ مَعَ الْكَعْبَيْنِ.

څلورم: له بېدیو سره د پښو پرې مینځل

فَإِنْ تَرَكَ وَاحِدًا او جُزْءًا مِنْ هَذِهِ الْأَرْبَعَةِ الْمَذْكُورَةِ لَمْ يَجُزْ صَلَاَتُهُ

که له دې څلورو څخه یو بشپړ یا یوه برخه یې پرې ږدي لمونځ یې نه کېږي

وَعَلَيْهِ الْإِعَادَةَ.

او بېرته به تازه سم اودس کوي

## سُنَنُ الْوُضُوءِ وَهِي عَشَرَةٌ:

د اوداسه سنتونه او هغه لس دي

الْأَوَّلُ: تَسْمِيَةُ اللَّهِ تَعَالَى فِي بَدْءِ الْوَضُوءِ.

لومړی: د اوداسه په پیل کې بسم الله ویل

والثَّانِي: غَسْلُ الْيَدَيْنِ ثَلَاثًا قَبْلَ إِدْخَالِهِمَا الْإِنَاءَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم: په لوښي کي تر دننه کولو مخکې درې ځله د لاسونو پرې مينځل

وَالثَّالِثُ: السِّوَاكُ.

درېيم: مسواک وهل

وَالرَّابِعُ: الْمَضْمَضَةَ.

څلورم: په خوله اوبه رغړول

وَالْخَامِسُ: الْاِسْتِنْشَاقُ.

پنځم: په پوزه اوبه سوغول

وَالسَّادِسُ: مَسْحُ الْأُذُنَيْنِ بِمَاءِ الرَّأْسِ.

شپږم: د غوږونو مسحه کول د سر په اوبو

وَالسَّابِعُ: تَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ بِالْأَصَابِعِ إِنْ كَانَتْ كَثِيفَةً وَأَمَّا إِنْ كَانَتْ خَفِيفَةً

اووم: د لاس ګوتې دننه کول په ږيره کي که ږيره ګڼه وي، او که ږيره سپکه وي

فَيَفْرُضُ إِيصَالُ الْمَاءِ إِلَى مَا تَحْتَهَا وَكَذَا يُسَنُّ تَخْلِيلُ أَصَابِعِ الرِّجْلَيْنِ إِنْ

نو رسول د اوبو لاندي پوستوکي ته فرض دی همدا راز د پښو د ګوتو په دننه کي د لاس د ګوتو دننه کول

لَمْ تَكُنْ مَضْمُومَةً وَإِنْ كَانَتْ مَضْمُومَةً فَيَفْرُضُ إِيْصَالُ الْمَاءِ إِلَى مَا بَيْنَهَا.

که سره نښلېدلي نه وي او که سره نښلېدلي وي نو دننه منځ ته يي د اوبو رسول فرض دی

وَالثَّامِنُ: تَكْرَارُ الْغُسْلِ ثَلَاثًا.

اتم: د هر اندام درې ځله مينځل تکرارول

وَالتَّاسِعُ: الِاسْتِنْجَاءُ بِالْحَجَرِ وَالْمَدَرِ أَوْ بِمَا يَقُومُ مَقَامُهُمَا.

نهم: ځان پاکول (استنجاء وهل) په ډبره او يا لوټه او يا داسې څه چي د دې ځای نيسي

وَالْعَاشِرُ: الِاسْتِنْجَاءُ بِالْمَاءِ عِنْدَ وُجُودِ الْمَاءِ.

لسم: په اوبو ځان پاکول (استنجاء وهل) که اوبه و موندلي شي

وَيَقْرَأُ هَذَا الدُّعَاءَ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْوَضُوءِ

او کله چي له اوداسه فارغ شي دا دعا به ووايي:

" أَشْهَدُ أَنْ لا إِلٰهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، واجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ"

## مُسْتَحَبَّاتُ الْوَضُوءِ وَهِي سِتَّةٌ:

د اوداسه مستحب کارونه او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ: النِّيَّةُ.

لومړی: نیت کول

والثاني: التَّوَالِي.

دریم: د اندامونو پرله پسې پرې مینځل

وَالثَّالِثُ: الْبِدَايَةُ بِمَيَامِنِهِ.

دریم: په ښي اندامونو پیل کول

وَالرَّابِعُ: مُرَاعَاةُ التَّرْتِيبِ بِالْبِدَايَةِ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ تَعَالَى بِهِ.

څلورم: د هغه ترتیب په پام کي نیول چي الله تعالی یي پیل یاد کړی.

وَالْخَامِسُ: اِسْتِيعَابُ جَمِيعِ الرَّأْسِ بِالْمَسْحِ.

پنځم: د ټول سر مسحه کول

وَالسَّادِسُ: مَسْحُ الرَّقَبَةِ بِمَاءِ جَدِيدٍ.

شپږم: په تازه اوبو د غاړې مسحه کول

## آدَابُ الْوَضُوءِ وَهِي سِتَّةٌ:

د اوداسه آداب او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ: تَرْكُ الْكَلَامِ سِوَى الْأَدْعِيَةِ الَّتِي يُدْعَى بِهَا عِنْدَ غَسْلِ كُلِّ عُضْوٍ.

لومړی: د خبرو نه کول پرته له هغو دوعاگانو څخه چي د هر اندام له مینځلو سره ویله کېږي

والثاني: الْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى.

دوهم: په خوله اوبه رغړول او په پوزه اوبه سوڼ وهل په ښي لاس سره

وَالثَّالِثُ: الْإِمْتِخَاطُ بِيَدِهِ الْيُسْرَى.

دریم: د پوزي غوزي ټک وهل په کیڼ لاس سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَالرَّابِعُ: سَتْرُ الْعَوْرَةِ بَعْدَ الِاسْتِنْجَاءِ فِي بَيْتِ الْخَلَاءِ.

څلورم: د شرم ځای پټول (گنده تړل) وروسته له استنجاء څخه په بيت الخلاء کي

وَالْخَامِسُ: تَرْكُ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ وَتَرْكُ اِسْتِدْبَارِهَا فِي بَيْتِ الْخَلَاءِ

پنځم: قبلې ته نه مخ کول او نه شا ور گرځول په بيت الخلاء کي

فِي الْبِنَاءِ وَالصَّحْرَاءِ.

په کور او په دښته کي

وَالسَّادِسُ: تَرْكُ اِسْتِقْبَالِ عَيْنِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَتَرْكُ اِسْتِدْبَارِهِمَا

شپږم: مخ نه کول او شا نه گرځول د لمر ټکی او د سپوږمۍ ټکی ته

فِي الْبُنْيَانِ وَالْبَرِّيَّةِ.

په کور او په دښته کي

## نَوَافِلُ الْوَضُوءِ وَهِيَ سِتَّةٌ:

د اوداسه نفلونه او هغه شپږ دي

الْأَوَّلَ: اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ فِي الْوَضُوءِ لَا الِاسْتِنْجَاءِ.

لومړی: د قبلې لور ته مخ اړول په اوداسه کي، نه په استنجاء کي

وَالثَّانِي: الْبِدَايَةُ بِرِجْلِهِ الْيُسْرَى إِذَا دَخَلَ بَيْتَ الْخَلَاءِ

دوهم: لومړی کيڼه پښه دننه کول کله چي بيت الخلاء ته ننوځي

وَإِذَا خَرَجَ يَبْدَأُ بِرِجْلِهِ الْيُمْنَى.

او د وتلو په وخت کي ښۍ پښه لومړی بهر ته ايستل

وَالثَّالِثُ: رَشُّ الْمَاءَ عَلَى السَّرَاوِيلِ.

دريم: په پرتوگ د اوبو پرخه کول.

وَالرَّابِعُ: مَسْحُ الْيَدَ عَلَى الْحَائِطِ بَعْدَ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْمَاءِ.

څلورم: په اوبو له استنجاء وهلو وروسته لاس په خټين دېوال موښل

وَالْخَامِسُ: غَسْلُ الْيَدَيْنِ بَعْدَ مَسْحِ الْحَائِطِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم: په دېوال له مښلو وروسته دواړه لاسونه په اوبو مینځل.

وَالسَّادِسُ: يَنْظُرُ إِلَى السَّمَاءِ وَيَقْرَأُ:" الْحَمْدُ لله الَّذِي جَعَلَ الْمَاءُ طَهُورَا

شپږم: د اسمان لور ته به وګوري او دا دوعا به ووايي: ټوله ستاينه هغه الله لره ده چي اوبه يي پاکي ګرځولي دي

وَالْإِسْلَامُ نُورًا وَدَلِيْلاً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى جَنَّاتِ النَّعِيمِ، اللَّهُمَّ حَصِّنْ فَرْجِي وَطَهِّرْ

او اسلام يي ډېوه او الله تعالى ته او له نعمتونو ډکو جنتونو ته لارښود ګرځولی دی اې الله زما شرم ځای وساتې او

قَلْبِي وَمَحِّصْ ذُنُوبِي".

زړه مي پاک کړې او ګناهونه مي ورژوې

## مَكْرُوهَاتُ الْوَضُوءِ وَهِيَ سِتَّةٌ:

د اوداسه مکروهات او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ: التَّعْنِيفُ، أي ضَرْبَ الْمَاءِ عَلَى الْوَجْهِ ضَرْبًا شَدِيداً

لومړی: سختي کول، دا معنا چي په مخ اوبه په زور ووهې

والثاني: الإِمْتِخَاطُ فِي الْمَاءِ.

دوهم: په اوبو کي د پوزې غوزې سوڼ وهل

وَالثَّالِثُ: الْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ بِيَدِهِ الْيُسْرَى مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ.

دریيم: بې له عذر څخه په چپ لاس په خوله او پوزه اوبه رغړول

وَالرَّابِعُ: الْكَلَامُ عِنْدَ الِاسْتِنْجَاءِ.

څلورم: د استنجاء په حالت کي خبري کول

وَالْخَامِسُ: إِلْقَاءُ الْبَوْلِ أَوِ الْغَائِطِ فِي الْمَاءِ.

څلورم: په اوبو کي متيازي او ګنګي اچول

وَالسَّادِسُ: النَّظَرُ إِلَى عَوْرَتِهِ.

پنځم: خپل شرم ځای ته کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناهي الْوَضُوءَ وَهِي سِتَّةٌ:

د اوداسه منع شوي کارونه او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ: إِسْرَافُ الْمَاءِ، أَيَّ غَسْلُ الْأَعْضَاءِ الْمَفْرُوضَةِ أَكْثَرَ مِنْ ثَلاث.

لومړی: په اوبو کي زیاتی کول، دا معنا چي تر دريې ځله زیات د فرض شويو اندامونو مينځل

والثاني: التَّقْتِيرُ بِالْمَاءِ أَيَّ غَسْلُ الْأَعْضَاءِ بِحَيْثُ يَكُونُ أَقْرَبُ إِلَى الدُّهْنِ.

دوهم: د اوبو بېخي لږ کارول ، دا معنا چي اندامونه داسې ومينځې لکه غوړول چي وي

وَالثَّالِثُ: الْمَسْحُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ غَيْرِ خُفٍّ لِأَنَّهُ مِنْ أَعْمَالِ الرَّوَافِضِ.

دريیم: بې موزو په پښو مسحه کول ځکه چي دا د شېعه ګانو کار دی

وَالرَّابِعُ: الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ وَفِيْهِمَا خَرْقٌ كَبِيرَ.

څلورم: په داسې موزو مسحه کول چي غټ سورى وي په کې او يا څيري وي

وَالْخَامِسُ: كَشْفُ الْعَوْرَةِ عِنْدَ الْوَضُوءِ.

پنځم: د اوداسه په وخت کي د شرم ځای لوڅول

وَالسَّادِسُ: الِاسْتِنْجَاءُ بِالْيَدِ الْيُمْنَى مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ.

شپږم: بې له عذر څخه په ښې لاس استنجاء وهل

# نَوَاقِضُ الْوُضُوءِ وَهِيَ عَشْرَةٌ:

د اوداسه ماتوونکي او هغه لس دي

الْأَوَّلُ: كُلُّ خَارِجٍ مِنْ إِحْدَى السَّبِيلَيْنِ أَوْ مِنْ غَيْرِ إِحْدَى السَّبِيلَيْنِ

لومړی: هر هغه شی چي له دوو لارو او يا په دې سربېره له بل ځای څخه ووزي،

إِلَّا الْبُزَاقَ وَالْمُخَاطَ وَمَاءً خَرَجَ مَنِ الْأُذُنَيْنِ وَالْعَيْنَيْنِ مِنْ غَيْرِ عَلَّةٍ.

له ناړو او له غوزو او له هغو اوبو پرته چي بې له کومه رنځ څخه له غوږونو او پوزي څخه را ووزي

والثاني: الْقَيْءُ مَلأَ الْفَمِ.

دوهم: په ډکه خوله کانګي کول

وَالثَّالِثُ: النَّوْمُ مُسْتَنِدًا أَوْ مُتَّكِئًا أَوْ مُضْطَجِعًا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيم: ويده کېدل په داسي ډول چي تکيه وهلي وي يا يي ډډه لګولي يا غزېدلى وي

وَالرَّابِعُ: الْقَهْقَهَةُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ ذَاتِ رُكُوعٍ وَسُجُودٍ،

څلورم: په هغه لمانځه په کړسی خندا چي رکوع او سجده ولري ،

وَلَا تَنْقُضُ الْوُضُوءَ فِي صَلَاةِ الْجِنَازَةِ بَلْ تُفْسِدُهَا فَقَطْ.

او د جنازې په لمانځه کي په کړسي خندا اودس نه ماتېږي خو يواځې لمونځ فاسد کېږي.

وَالْخَامِسُ: الْجُنُونُ.

پنځم: لېونتوب

وَالسَّادِسُ: الإِغْمَاءُ.

شپږم: بې هوښي

وَالسَّابِعُ: مَصُّ عَلَقَةٍ أَوْ قُرَادٍ كَبِيرٍ عُضْوًا فَامْتَلَئَا مِنَ الدَّمِ.

اووم: غټه زوريه يا غټه توره څلور پښي خزنده چي وينه وځېښي او ترې ډکه شي.

وَالثَّامِنُ: السُّكْرُ وَلَوْ بِأَكْلِ الْحَشِيشَةِ، وَحَدُّهُ أَلَّا يَعْرِفَ الرَّجُلَ مِنَ الْمَرْأَةِ،

اتم: نشه ولو که د بنګو په خوړلو سره وي، او کچه يي دا ده چي د نر او ښځې توپير ونه کولای شي

وَقَالَا: إِذَا دَخَلَ فِي بَعْضِ مَشْيِهِ تَحَوُّلٌ فَهُوَ سَكْرَانٌ، وَقَدْ رَجَّحُوا قَوْلَهُمَا

او صاحبان وايي: که يي په تګ کولو کي پښې تلولی کېدلې نو نشه دی، او فقهاوو يي وينا ته ترجيح ورکړي ده

وَأَكْثَرُ الْمَشَايِخَ عَلَى قَوْلِهِمَا وَاخْتَارُوهُ لِلْفَتْوَى وَهُوَ الصَّحِيحُ.

او زياتره فقهاء په همدې نظر دي او همدا وينا يي د فتوا ورکولو لپاره غوره کړي ده او دا صحيح خبره هم ده.

وَالتَّاسِعُ: الدَّمُ الْخَارِجُ مَعَ الْبُزَاقِ إِنْ غَلِبَ الدَّمُ عَلَى الْبُزَاقِ أَوْ سَاوَاهُ.

نهم: له ناړو سره چي وينه را ووزي که وينه پرې زياته وي او که له ناړو سره برابره وي .

وَالْعَاشِرُ: الشَّكُّ فِي الْوَضُوءِ بِأَنَّهُ تَوَضَّأَ أَمْ لَا وَكَانَ قَبْلَ ذَلِكَ مُحْدِثًا بِالْيَقِينِ،

لسم: په اوداسه کي شک دی چي اودس يي کړی دی او کنه خو چي يقين يي وي چي اودس يي مات

وَأَمَّا إِذَا تَيَقَّنَ فِي الْوَضُوءِ وَشَكَّ فِي أَنَّهُ اِنْتَقَضَ أَمْ لَا، فَلَا وَضُوءٌ عَلَيْهِ.

وو او که يي په دې يقين وو چي اودس يي کړی خو شکي وو چي مات شوی او کنه نو بيا اودس ور باندي نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بَابُ فَرَائِضِ الْغُسْلِ وَهِي ثَلَاث:

د غسل (لامبلو) فرضونه او هغه درې دي

## الْأَوَّلُ: الْمَضْمَضَةُ.

لومړی: په خوله اوبه رغړول

## والثَّانِي: الْإِسْتِنْشَاقُ.

دوهم: په پوزه اوبه سوغول

## وَالثَّالِثُ: غَسْلُ سَائِرِ الْجَسَدِ جَمِيعًا.

درېيم: د نور ټول بدن مینځل

# سُنَنُ الْغُسْلِ وَهِي سِتَّةٌ:

د غسل (لامبلو) سنتونه او هغه شپږ دي

## الْأَوَّلُ: أَنْ يَبْدَأُ بِغَسْلِ الْيَدَيْنِ.

لومړی: دا چي لومړی به دواړه لاسونه مینځي

## والثاني: أَنْ يَغْسِلُ فَرْجَهُ.

دوهم: دا چي خپل شرم ځای به مینځي

## وَالثَّالِثُ: أَنْ يُزِيلُ النَّجَاسَةَ عَنْ بَدَنِهِ.

درېيم: دا چي له بدن څخه به نا پاکي لري کړي

## وَالرَّابِعُ: أَنْ يَتَوَضَّأَ قَبْلَ الْغُسْلِ إِلَّا قَدَمَيْهِ.

څلورم: دا چي تر لامبلو مخکې به اودس وکړي خو د پښو مینځل به پرې ږدي.

## وَالْخَامِسُ: أَنْ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهِ ثَلَاثًا.

پنځم: دا چي په ټول بدن به درې ځله اوبه توی او وبهوي

## وَالسَّادِسُ: أَنْ لَا يَغْسِلَ رِجْلَيْهِ إِلَّا عَلَى خَشَبَةٍ أَوْ حَجَرٍ أَوْ آجُرٍّ أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ.

شپږم: پښې به د لرګي په تخته یا کومه ډبره او یا په پخه شوي خښته باندي او یا په همدې ورته شي مینځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آدَابُ الْغُسْلِ وَهِيَ سِتَّةٌ:

د لامبلو اداب او هغه شپږ دي

الْأَوَّلُ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي مَكَانٍ لَا يَرَاهُ أَحَدٌ.

لومړی: په داسې ځای کې به لامبې چې څوک يې ونه ويني

والثَّانِي: أَلَّا يَنْظُرَ إِلَى عَوْرَتِهِ.

دوهم: خپل شرم ځای ته به نه ګوري

وَالثَّالِثُ: أَلَّا يَتَكَلَّمَ.

دريیم: خبري به نه کوي (د لامبلو په وخت کې)

وَالرَّابِعُ: أَنْ يَغْسِلَ قَدَمَيْهِ أَخِيْرًا.

څلورم: د لامبلو په پای کې به پښې مينځي

وَالْخَامِسُ: أَنْ يَمْسَحَ بِمَنْدِيلٍ بَعْدَ الْغُسْلِ.

پنځم: ځان به په دسمال / توليه / ګانچه وچ کړي

وَالسَّادِسُ: أَنْ يُصَلِّيَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ بَعْدَ الْغُسْلِ.

شپږم: له لامبلو وروسته به په رسول الله ﷺ درود ووايي

## مُوجِبَاتُ الْغُسْلِ وَهِيَ عَلَى نَوْعَيْنِ:

د غسل (لامبلو) واجب ګرځوونکي لاملونه او هغه دوه ډوله دي

النَّوْعُ الْأَوَّلُ: حَقِيقِيٌّ كَإِنْزَالِ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ دَفْقٍ وَشَهْوَةٍ مِنَ الرَّجُلِ

لومړی: حقيقي لامل لکه په ټوپ او شوق د نارينه او د ښځې د منيو (اوبو) وتل

وَالْمَرْأَةِ فِي حَالَةِ النَّوْمِ وَالْيَقِظَةِ وَكَذَا الْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ.

د ويښ تابه او خوب په حالتونو کې همدا راز (له) حيض او نفاس څخه (د پاکوالي لپاره)

وَالنَّوْعُ الثاني: حُكْمِيٌّ كَمَنِ اِسْتَيْقَظَ مِنَ النَّوْمِ وَيَرَى مَنِيًّا أَوْ مَذِيًّا

دوهم: حکمي لامل: لکه يو څوک چې له خوب څخه را پاڅي مني او يا خړي اوبه ووينی

وَلَمْ يَتَذَكَّرِ الْاِحْتِلَامَ فَيُحْكَمُ عَلَيْهِ بِالْغُسْلِ اِحْتِيَاطًا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو غولېدل يې په ياد نه وي نو د احتياط له مخې د لامبلو حکم ورته کېږي

## الْغُسْلُ الْمَسْنُونُ وَهُوَ أَرْبَعَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ:

سنت غسلونه او هغه د امام ابوحنيفه رحمه الله په وړاندې څلور دي

الْأَوَّلُ: غُسْلُ الْجُمُعَةِ.

لومړی: د جمعې لپاره لمبېدل

والثَّانِي: غُسْلُ الْعِيدَيْنِ.

دوهم: د اخترونو لپاره لمبېدل

وَالثَّالِثُ: غُسْلُ يَوْمِ عَرَفَةٍ.

درېيم د عرفات لپاره لمبېدل

وَالرَّابِعُ: غُسْلُ الْإِحْرَامِ.

څلورم: د احرام د اغوستلو لپاره لمبېدل

## الأَذْكَارُ المَسْنُونَةُ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ

له فرض لمانځه وروسته مسنونه اذکار

١ـ «اسْتَغْفِرُ اللّٰه» (درې ځله)

٢ـ «اللّٰهُمّ أَنْتَ السَّلامُ ومِنْكَ السَّلامُ تَبارَكْتَ يَا ذَا الجَلالِ والإِكْرَامِ»

٣ـ «لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ المُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ وهُوَ على كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٍ اللّٰهُمّ لا مَانِعَ لما أَعْطَيْتَ ولا مُعْطِيَ لِما مَنَعْتَ ولَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ»

٤ـ «لا إِلَهَ إِلّا اللّٰه وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ وهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ لا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلّا باللّٰهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ ولا نَعْبُدُ إِلّا إِيّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ ولَهُ الفَضْلُ ولَهُ الثَّنَاءُ الحَسَنُ لا إِلَهَ إِلّا اللّٰه مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ولَوْ كَرِهَ الكَافِرُوْنَ»

٥ـ «سُبْحَانَ اللّٰه» (٣٣) ځله «الحَمْدُ لله» (٣٣) ځله «اللّٰه أكْبَرُ» (٣٣) ځله بيا به دا ووايي:
«لا إِلَهَ إِلّا اللّٰه وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ المُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ وهُوَعَلى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ»

٦ـ «اللّٰه لَا إِلَهَ إِلّا هُوَ الحيُّ القَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ ولَا نَوْمٌ لَهُ ما في السَّمَاوَاتِ ومَا في الأَرْضِ مَنْ ذَا الّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إلّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وما خَلْفَهُمْ ولَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إلّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ ولَا يَئُودُهُ حِفْظُهُما وهُوَ العَلِيُّ العَظِيمُ»

٧ـ «قُلْ هُوَ اللّٰه أحَدٌ اللّٰه الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ ولَمْ يُولَدْ ولَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أحَدٌ» .

٨ـ «قُلْ أعُوذُ بِرَبِّ الفَلَقِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ومِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إذَا وَقَبَ ومِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ في العُقَدِ ومِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إذَا حَسَدَ».

٩ـ «قُلْ أعُوذُ بِرَبِّ النّاسِ مَلِكِ النّاسِ إلَهِ النّاسِ مِنْ شَرِّ الوَسْوَاسِ الخَنّاسِ الّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النّاسِ مِنَ الجِنّةِ وَالنّاسِ»،

١٠ـ «رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ»

١١ـ «اللّهُمّ اغْفِرْ لي مَا قَدّمْتُ وما أخّرْتُ وما أسَرَرْتُ وما أعْلَنْتُ وما أسْرَفْتُ وما أنْتَ أعْلَمُ بِهِ مِنِّي أنْتَ المُقَدِّمُ وأنْتَ المُؤخِّرُ لا إلَهَ إلّا أنْتَ» .

«لا إِلَهَ إِلّا اللّٰه وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ المُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ يُحْيِي ويُمِيْتُ وهُوَ عَلى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ» (د سهار له لمانځه وروسته او د ماښام له لمانځه وروسته لس لس ځله)

١٢ـ: «اللّهُمّ إِنِّي أسَأَلُكَ عِلمًا نَافِعًا ورِزْقًا طَيِّبًا وعَمَلًا مُتَقبّلًا»
(يواځې د سهار له لمانځه وروسته يو ځل)

اللّهُمّ صَلِّ عَلَى مُحَمّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمّدٍ كَمَا صَلّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ . اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ . (لس ځله)

## ځينې اړين معلومات

**نيت:** د زړه اراده

**تكبير تحريمه:** د لمانځه د پيل الله اكبر

**ركن:** هغه بنسټيز عمل دى چي بې له هغه عبادت نه تر سره كېږي

**الماءُ المُطلَقُ:** هغه پاكي اوبه دي چي پخپله اصلي بڼه پاته وي رنګ، خوند او بوى يې تغير نه وي كړى لكه: د باران، ويالې، چينې، سمندر، څاه، د واوري او برف اوبه دا ډول اوبه ټولي پاكي دي او اودس او غسل پرې كېداى شي.

**تعديل الأركان:** د لمانځه په ركوع كي له ركوع څخه وروسته په درېدا كي په سجده كي او د دوو سجدو په منځ كي د بدن د اندامونو داسې ډاډمن ارامول چي هر څه بندونه او د جامو حركت په خپل ځاى ودرېږي دېته تعديل الأركان وايي او دا واجب دى او لږ تر لږه اندازه يې يو ځل تسبيح ويل دى كه يې څوک قصداً پرې ږدي لمونځ يې نه دى شوى او بېرته را ګرځول يې ورباندي واجب دى

**سجده سهو:** هغه دوه سجدې دي چي لمونځ كونكى يې د فرض ركن په بې قصده ځنډ او يا د واجب د بې قصده پاته كېدلو په صورت كي د وروستى ناستې په پاى كي تر سره كوي

**تخليل:** يا خلالول دېته وايي چي اودس كونكى د خپل لاس په اوبو لندې شوي ګوتې په ږيره كي دننه ووهي تر څو ګڼه ږيره له دننه لوري او همدا راز تر ږيره لاندي پوستوكى وچ پاته نشي همدا راز د لاس لندې ګوتې د پښو د ګوتو په منځ كي د مينځلو په حالت كي دننه كړي دېته وايي تخليل او يا خلالول.

**استنجاء:** له حقيقي نجاست څخه د ځان پاكولو ته استنجاء وايي او دا په ډبره، لوټه، كاغذ تشناب، او دېته ورته شيانو او په اوبو باندي كېداى شي ، كه دا پاكي په لوټه او ډبره وشي دېته استجمار هم وايي، كه په لوټه او ډبره ځان يقيني پاک كړل شي په اوبو وينځل ضروري نه دى همدا راز پاكوالى يواځې په اوبو هم راتلاى شي، خو غوره او بهتره داده چي كه ممكن وي او څه ځور نه وي لومړى په لوټه او يا هغې ته ورته شي اودس وچ كړل شي او بيا په اوبو استنجاء ووهله شي دا ښه كار دى.

**مسح:** د لوند لاس تېرولو ته وايي، د سر د څلورمې برخې مسحه كول فرض دى او د ټول سر مسحه كول او د غوږونو لاندي باندي مسحه كول سنت دى ،

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**